Logar Monthly

..... دامتیاز څښتن: دلوګر ولایت داطلاعاتواوفرهنګ ریاست
..... مسوول مدیر : شیرمحمدامیني « ستانکزی» ۰۷۰۵۱۰۶۶۲۸
..... د سمون او ایډیت چارې : عبدالرحمن «تسل» ، امین الله «صفا» او محمد زاهد«سلطاني»
..... د اړیکې شمیره : ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸ برښالیک : shir.stanikzai2@gmail.com
..... فیسبوک پاڼې : دلوګر اطلاعاتواوفرهنګ ریاست/ لوګر میاشتنۍ
..... یادونه : دسرلیکنې پرته د نورو لیکنو مسؤلیت پرخپله لیکوال پورې دی .

ډیزاین : امیني ستانکزی
چاپ ځای: آزادی مطبعه

له مدني ټولنو سره د حکومت پرانیستې خبرې اترې تر سره شوې

د کب دریمه:
له مدني ټولنو سره د حکومت پرانیستې خبرې اترې تر سرلیک لاندې ناسته، چې مشري یې د ولایت د ټولنیزو چارو مرستیالې رابعې ستانکزۍ کوله، پکې د لوګر د اطلاعات او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل، د تخنیکي او سکتوري چارو رییس غزني ګل ځائي، د مالي او اداري چارو رییس وحیدالله رحماني او د ولسوالیو په ګډون د مدني ټولنو مسوولینو برخه لرله.
په لومړیو کې د ناستې د موخو پر تړاو د اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل لخوا هر اړخیز معلومات له ګډونوالو سره شریک شول.
دغه راز د مدني ټولنو مسوولینو او غړو په وار سره د ولایت په کچه په بېلابېلو برخو کې ستونزې، وړاندیزونه، لاسته راوړنې او غوښتنې شریکې کړې او ډاډ یې څرګند کړ، چې دوی د ولایت له رهبرۍ سره اوږه په اوږه د دې ولایت د اوسیدونکو په ځانګړې توګه د ځوانانو ستونزو ته رسېدنې په لار کې همکار او همغږې دي.
د ولایت د ټولنیزو چارو مرستیالې رابعې ستانکزۍ وویل؛ تاسو په ستونزمنو حالاتو کې لوګري ولس ته کار کوئ او د دوی غږ تر مسوولینو رسوئ، موږ مو ترڅنګ ولاړ یو او ستاسو ملاتړې یو. ستانکزۍ مدني ټولنو مسؤلینو ته وویل، هڅه به مو وي، چې خپل غږ له قانوني پلوه پورته او تر مسوولینو ورسوئ.
ستانکزۍ وایي؛ مدني ټولنې، چې څومره زیات فعالیت ولري د ولایت او د ولس په ګټه دي، باید سیاسي او نورې ټولنیزې برنامې په لاره واچوي.

آغلې ستانکزۍ مدني ټولنو غړو ته په وینا کې وویل؛ ستاسو غږ هغه وخت ښه آوریدل کیږي، چې خپل فعالیتونه لا پراخ کړئ. مدني ټولنې باید په خپلو منځو کې ښه همغږې ولري، ستاسو ترمنځ نه همغږې ستاسو د بې اتفاقۍ سبب ګرځي.

از روز جهانی زن درلوگر تجلیل بعمل آمد

ازروز جهانی زن درلوگر درحالی تجلیل بعمل آمد که آمار خشونت نسبت به سال گذشته دراین ولایت افزایش یافته است.
برنامه که بدین مناسبت درمقام ولایت لوگر دایرگردیده بود درآن عبدالقیوم رحیمی والی لوگر، شیما زرگرریییسه امورزنان، رابعه ستانکزی معاون مقام ولایت، برخی روسای ادارات وجمع کثیرازخانم ها اشتراک ورزیده بودند. سخنرانان درجریان صحبت های شان پیرامون حقوق زنان سخن گفتند.
عبدالقیوم رحیمی والی لوگر می گوید که زنان میتوانند تجارت کنند ودرمسایل اجتماعی سهیم شوند ودرعرصه آموزش با آنان همکاری بیشترصورت گیرد، والی لوگر برنقش زنان درجوامع تاکید کرد وگفت که درروشنایی دساتیراسلام هرفرد مکلف است که به زنان احترام قایل شوند . وی ازایجاد فرصت های کاری برای زنان خبر داد وگفت که مصمم است تا زنان ودخترخانم ها بیشتردرادارات دولتی به وظیفه گماشته شوند.

برخی خانم ها درولایت لوگر ازدولت می خواهند که چالش های فرا راه خانم ها را دراین ولایت بردارند تا فرصت سهم گیری بیشترزنان درآبادانی کشورایجاد گردد .
یکتن ازخانم ها می گوید که برای زنان دین مبین اسلام حقوق کامل را قایل شده است ودرجامعه افغانی بیشترزنان ازاین حقوق محروم اند ، وی نقش خانمان را درکسب علم ودانش نهایت مهم وارزنده تلقی نمود وافزود که فامیل ها بجای خشونت دختران شانرا به فراگیری علم ودانش تشویق نمایند وهمه خانم ها باید حجاب اسلامی را مراعات نمایند.

د لوګر د نجونو له یوه ښوونځي سره یوې افغانې میرمنې مرسته وکړه

د کب ۱۴ مه: د لوګر ولایت مرکز پل علم اړوند د هوني سیدانو کلي د نجونو له منځني ښوونځي سره د یوې افغانې میرمنې له خوا مرسته وشوه.
د پوهنې ریاست ویاند محمد شاه پور عرب وایي، دغه مرسته د نوموړي کلي د ملک الحاج سید محمد افضل هاشمي په هلو ځلو په کاناډا هېواد کې د بي بي حاجي زهرې په نوم یوې مېشتې افغانې میرمنې کړې ده چې شاوخوا ۳۷۰۰ امریکایي ډالره ارزښت لري.
عرب زیاته کړه، په دې مرسته کې د ښوونځي اداري ته دفتري وسایل، د زده کوونکو لپاره د ښوونځي جامې، ټیکري، بوټونه، بیکونه، ۱۹ قلمه درسي توکي، ماسکونه او ځینې نور اړین توکي شامل دي.
عرب وویل، یادې مرستې پر ۳۴۰ زده کوونکو ووېشل شوې، چې هرې زده کوونکې ته یوه جوړه جامې، ټیکري، یو جوړه بوټ، یوه بکسه او د اړتیا وړ قرطاسیه باب ورکړل شول.
هیره دې نه وي، چې یادې میرمنې او خاوند یې په تېرو کلونو کې هم د یاد ښوونځي له زده کوونکو سره ورته مرستې کړې دي.

دو مکتب ابتدایه درلوگرتازه تاسیس شد

دو مکتب ابتدایه برای کوچی ها به تاریخ 4 حوت، تازه درولایت لوگر تاسیس شد که درسال تعلیمی پیشرو برای چهارصد دانش آموز کودک، زمینه آموزش فراهم خواهد گردید .
شاپورعرب سخنگوی ریاست معارف لوگر می گوید که مکتب ابتدایه میرعلم درپل علم ومکتب ابتدایه عمران خیل درولسوالی بره کی برک به اساس خواست باشنده گان محل ومنظوری وزارت معارف برای اطفال کوچی ها تازه تاسیس گردیده است.
وی علاوه کرد که درسال 1400 هجری شمسی قرار است تاچهارصد دانش آموزکودک دراین مکاتب برای کسب علم ودانش شامل گردند .
سرمولف سید عزیزاحمدهاشمی ضمن اظهارخرسندی، ازکوچی ها خواست که اطفال شانرا برای فراگیری علم ودانش به مکاتب یاد شده بفرستند .
قابل یاد آوری است که درولایت لوگر مشمول یک مدرسه دینی هفده باب مکاتب برای کوچی ها وجود دارد که درآن بیش از دوهزاردانش آموز مصروف آموزش هستند .

کار زار نهال شانی درلوگر ادامه دارد

به تاریخ 20 حوت، تحت نام هر افغان یک نهال، درلوگر از روز ملی نهال شانی تجلیل بعمل آمد که قرار است در ساحه تفریحی کوه میرابدال بابا پنجاه هزار اصله نهال غرس گردد.
عبدالقیوم رحیمی والی لوگر که درکمپاین نهال شانی شرکت ورزیده بود می گوید که قرار است در ساحه تفریحی کوه میرابدال بابا پنجاه هزار اصله نهال از سوی ادارات غرس گردد ، والی لوگر گفت که ساحه یاد شده یک مکان خوب برای تفریح است وی به ادارات هدایت داد که در ساحات مشخص شده شان نهال غرس نمایند و از آن حفاظت کنند ، آقای رحیمی وعده داد که این ساحه را به یک مکان مناسب تفریحی مبدل می نماید وسرک وسیستم آبرسانی آنرا اعمار میکند.
کوه میرابدال در قسمت غربی شهر پل علم موقعیت دارد که به زیبای بیشتر این شهر افزوده است.
این درحالی است که کارزار نهال شانی درولایت لوگرتوسط عبدالقیوم رحیمی والی لوگر در هفته قبل آغازگردید که قرار است تا درحدود دوصدهزار اصله نهال مثمر وغیر مثمر درشهرپل علم وولسوالی های این ولایت غرس گردد.

خروار بند

خروار بند د لوګر ولایت په خروار ولسوالۍ کې موقعیت لري، ښه خبر دادی، چې د محبوب ولسمشر محمد اشرف غني د اوبو په مدیریت کې ددې بند جوړول هم شامل دي، په روان کال کې به یې د رغونې چارې پیل شي .
اوبه زموږ آبرو او عزت دی .
د کمال خان بند د بشپړاوي چارې دې مخکې له مخکې مبارک وي !
دلوګر داطلاعاتواوفرهنګ ریاست

خانواده

ټولنیز ژوند څه ته وایي او څنګه یې غوره کړو؟

د بې وزلۍ ژوند ډېری وګړي دې ته اړ کړي، چې د سیمې له اوسیدونکو سره یو څو ورځې ژوند د ګاونډیتوب په بڼه تېرکړي؛ خو دا لړۍ نه یواځې په افغانستان کې بلکې د اسلامي نړۍ سربېره په ګڼو هیوادونو کې جریان لري. دلته موږ ترهرڅه لومړی دا روښانه کوو چې ګاونډي څه ته وایي؟ او حقوق یې څه ډول اداء کولی شو؟
ګاونډي هغه چاته ویل کیږي، چې زموږ په شاوخوا (چم؛ ګاونډ او یا هم کوڅه) کې استوګنه ولري او د یو بل په غم او ښادۍ کې ځان شریک بولي.
هرهغه څوک چې په یوه ټولنه کې ژوند کوي؛ اړینه ده، چې د ټولنې د غړو او د چم اوسیدونکو سره ښې او مثبتې اړیکې ولري، ځکه د ښو اړیکو پالل زموږ پر شخصیت مثبته اغېزه کوي. د ښو اړیکو یا د ټولنیز ژوند پالل اسان کار نه دی او یو ځانګړي هنر ته اړتیا لري؛ خو کچېرته مو ټینګ عزم او کلک هوډ وکړ، په ټولنه کې ښې اړیکې پاللی شئ!
د ټولنیز ژوند په پاللو کې بیا ډېر داسې کم خلک شته، چې په سختو شېبو کې د خپلو ګاونډیانو مرستې ته چمتو او د اړتیا پرمهال دهغوی ناروغ روغتون اوډاکتر ته رسوي. همدا راز زموږ په ټولنه کې ځیني کورنۍ د ماشومانو په سر او د دیوال شریکې. په موضوع کې زیات وخت شخړې او لانجې کوي ... ځیني کورنۍ بیا له دې هم سرټکوي، چې په اطرافو (باندو) کې هغه د یوال شریکې کورونه چې پرته له خبرداري د خونو بام ته پورته کیږي او د خپل ګاونډی د ښځینه وو (تور سرو او پېغلو) د ځورونې لامل ګرځي. ...
که چېرې د ټولنې ټول وګړي د اسلام د سپېڅلي دین په رڼا کې د ګاونډیتوب حقوق وپېژني، هېڅکله به یې د ګاونډي سره ستونزه رامېښته نه شي او په سولیزه فضا کې به خپل ژوند په خوښۍ تېرکړي. دا چې د ګاونډي حقوق څه دي؟ او د ګاونډي سره څه ډول ژوند او زنده ګي تېره کړو؟ دا هغه پوښتنې دي، چې د لېکنې په پاتې برخه کې یې ځواب موندلی شئ!
الله (ج) په قران عظیم الشان کې فرمایي:
ژباړه: د الله تعالی عبادت وکړئ او شریک ورسره مه جوړوئ یعنې الله تعالی یو وګڼئ، عبادت یې هم وکړئ، شریک ورسره هم مه جوړوئ، د مور او پلار سره نیکي کوئ، دخپلو یتیمانو ، مسکینانو (بې وزلو) او د هغه ګاونډیانو سره ښه سلوک کوئ؛ کوم چې مو رشته دار (خپلوان) وي، او د خپل ګاونډي سره، مسافر سره هم ښه کوه یعنې د هغه چا ملمستیا کوه، چې دبل هېواد مسافر او د لارې لاروی وي.
حضرت ابوهریرة (رض) فرمایي: چې نبي کریم (ص) وویل: ای ابوهریرة ! پرهېزګاره شه؛ ته به ټولو خلکو کې اوچت عبادت ګار شې، قناعت بخش اوسېږه؛ ته به په ډېرو شکر ګذاره خلکو کې حساب شې، څه چې د ځان لپاره خوښوې؛ د نورو لپاره یې هم خوښوه؛ ته به ټولو خلکو کې اوچت مؤمن شې، د خپل ګاونډي سره ښه سلوک کوه نو ته به اوچت مسلمان شې او خندا کمه کړه؛ ځکه خندا زړه وژني.
حسن بصري په خپل سند سره زیاتوي؛ چې یو چا له حضرت محمد (ص) نه وپوښتل: ای د الله رسوله (ص) د ګاونډي یوبل باندې څه حقوق دي؟ هغه (ص) وفرمایل: که کوم څه درنه د پور په بڼه وغواړي نو پور ورکړئ؛ که بلنه درکړي؛ بلنه یې قبوله کړئ؛ که مریض (رنځور) شي نو پوښتنې ته یې ورشئ؛ که د مرستې غوښتنه درڅخه وکړي نو مرسته ورسره وکړئ، که څه مصیبت او ستونزه ورته پېښه شي نو عزت یې وکړئ؛ که څه ګټه ورته ورسېږي خوښي ورسره څرګنده کړئ؛ که وفات (مړ) شي نو جنازه یې وکړئ، او که چېرته غائب شي، نو د کور او عیال حفاظت به یې کوئ. ...
حضرت ابوذر غفاري (رض) فرمایي: چې ماته حضرت محمد (ص) د ۳ څیزونو وصیت کړی دی:
۱. اوره او اطاعت (مننونکی) اوسه؛ اګر که یو پوزه پرېکړی غلام درباندې امیر وګمارل شي.
۲. کله چې د غوښې ښوروا (شوروا) پخوې نو په کټوه کې اوبه زیاتې کړه او بیا ښوروا خپلو ګاونډیانو کره لیږه؛
وایي که یو سړی مړ شي او د هغه درې ګاونډیان وي او دغه درې ګاونډیان ترې راضي وي نو دده لپاره به ښښنه وکړلی شي.
۳. او لمونځ په خپل وخت کوه.
که غواړئ ښه ګاونډیتوب وپالئ، نو لاندې څلور لارښوونې عملي کړئ!
۱. که تاسو سره څه وي؛ نو د ګاونډي همدردي پکې وکړئ.
۲. د ګاونډي مال او متاع ته تمه مه کوئ.
۳. ګاونډي ته دهېڅ ډول ضرر او تاوان رسولو کوښښ مه کوئ.
۴. او که ګاونډي تاسو ته ضرر درورسولو ، نو تاسو پرې صبر وکړئ.
په دې کار سره خلک تر ډېره بریده کولی شي، چې د ګاونډي حقوق اود ټولنیز ژوند اصول ادا کړي، خو ځیني خلک دا حقوق اوصول د پښو لاندې کوي، چې له امله یې بیا خپل خوږ ژوند په تاو تریخوالي تېروي.
دا چې ژوند ښکلی دی، نو په لوی لاس خپل ژوند مه بدرنګوئ او دا یو څو ورځې ژوند په ډېرې خوښۍ تېر کړئ!

لیکنه: حضرت عثمان «نوري»